د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د ارشاد، حج او اوقافو وزارت
د مجمع علمي ریاست

# د بچه بازۍ د حرمت او د هغې د ترسره کوونکو د مجازاتو په هکله فتوی

# فتوی پیرامون حرمت بچه بازی و مجازات عاملین آن

تقدیم کننده: آمریت افتاء- ریاست مجمع علمی
وزارت ارشاد حج و اوقاف

۱۳۹۹/ ۲۰۲۱

# د بچه بازۍ د حرمت او د هغې د تر سره کوونکو د جزاګانو په اړه فتوی

# فتوی پیرامون حرمت بچه بازی ومجازات عاملین آن

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت ارشاد حج و اوقاف
معینیت مسلکی
ریاست مجمع علمی
مدیریت اجرائیه
Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Religious Affairs and HADJ
General President of Academic Team

شماره ۱۱۱ / ۶۴
تاریخ ۴/ ۱۱/ 1399

عاجل ☐ عادی ☐ ابلاغیه ☐ اطمینانیه ☐ سائر ☐

**به مؤسسه محترم صحی وانکشافی جوانان!**

**السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!**

دررابطه به مکتوب شماره 1933مورخ 12/15/ 2020 و شما احتراماً نگاشته می شود:

معلومات دینی که درارابطه به تهیه یک عنوان فتاوی به زبان پشتوازطریق آن مؤسسه محترم درمورد (مذمت وحرمت فعل بچه بازی) توسط تعداد ازعلماء دینی ازچهارولایت کشور جمع آوری گردیده با این ریاست قبلاً درمیان گذاشته شده بود وذریعه مکتوب نمبرفوق عنوانی مقام محترم وزارت، خواهان اصدار فتوی شرعی با استفاده ازآن مواد ازآدرس این ریاست گردیده بودید،

اینک فتوی شرعی پیرامون موضوع متذکره با استفاده ازمعلومات ارائه شده وبا استناد ازمصادر شرعی ومتون فقهی درقید (5) ورق AF تحت شماره (6) ترتیب واصدارگردیده است ضمیمه این مکتوب جهت معلومات واجراات بعدی به آن مؤسسه محترم ارسال است.

قابل یاد آوری است که تعداد صفحات فتوی متذکره میتواند بعد ازدیزاین به منظورطبع ونشربا رعایت کامل اصل متن آن افزایش یابد.

**بااحترام**

**مفتی سید حجت الله "نجیح"**

**رئیس مجمع علمی**

**کاپی به آمریت افتاء.**

Add: Kabul – shar- e – naw Char rahi Faiz Muhammad Khan.
Mobile: 0778830806
Email: Sientific.assembly@mohia.gov.af

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت ارشاد، حج و اوقاف
معینیـــت مسلـــکی
ریاست مجمع علمی
آمـــریت إفتـــاء

# د بچه بازۍ د حرمت او د هغې د ترسره کوونکو د جزاګانو په اړه فتوی

**بسم الله الرحمن الرحیم**

د بچه بازۍ د حرمت او ددغه ناوړه عمل تر سره کوونکو د جزاګانو په اړه استفتاء چې د ځوانانو د روغتیایي او پرمختایي مؤسسې د هغه هوکړه لیک په لړ کې چې د ا.ا.ج د ارشاد، حج او اوقافو د محترم وزارت سره یې لري د بچه بازۍ پر وړاندې د مبارزې او د مجازاتو څخه د معافیت د ختمولو پروژه د افغانستان په څلورو ولایتونو(کابل، کندهار، هرات او بلخ) کې پلې کوي. د پروژې د فعالیتونو څخه یو هم د بچه بازۍ د حرمت او د بچه بازۍ د قربانیانو څخه د ملاتړ په پار د وزارت له خوا یادې مؤسسې ته د ١٦ تنو پیژندل شویو علماؤ کرامو څخه د فتوی لپاره د موادو تر لاسه کول چې استفتاء یې په لاندې ډول ده:

د ځوانانو روغتیایي او پرمختیایي مؤسسي رهبري د خپل دیني او ملي مسئولیت په درک کولو سره یوې لویې ټولنیزې ستونځې (د بچه بازۍ مخنیوي) ته پام اړولی او د دې ناوړې پدیدې د له منځه وړلو په موخه یې اغیزمنې او ګټورې هڅې ترسره کړي دي نو د بچه بازۍ د حرمت او د هغې د ترسره کوونکو د مجازاتو په هکله یې د بیلابیلو ولایاتو د علماؤ نظرونه د فتوی د صادرولو لپاره راټول او د توحید څخه وروسته د وزارت د علمي ټولنې د ریاست سره د فتوی د صادرولو په موخه شریک شول د دغو موادو په استناد سره د بچه بازۍ د حرمت او د هغې د ترسره کوونکو د مجازاتو په هکله لاندې فتوی صادریږي:

**فتوی:**

**الحمد لله الذي بيَّن الحلال و الحرام و وضَّح منها الفحشاء و الآثام، والصلاة والسلام على سيدنا محمد خير الأنام، و على آله و اصحابه الكرام، و بعد:**

د اسلام سپېڅلی دین د وروستني آسماني دین په توګه د نزول سره سم د ناوړو ټولیزو پدیدو پر وړاندې مبارزه پیل کړه تر څو انسانان د عقیدې له اړخه د رضایت وړ او منلي پړاو، همدارنګه د اخلاقي او ټولینیزو کړونو کې د کمال پایلو ته ورسیږي، بناءً دې لوېې موضوع ته په پام د هر ډول اخلاقي ناخوالو څخه د ټولنې د پاکوالي او د هرې فحشاء او د انساني سلیم فطرت خلاف کړنه او د هغې خپرول د اسلام په دین کې حرام، ناروا او رټل شوي دي. په قرآنکریم او نبوي احادیثو کې د بچه بازۍ ترسره کوونکي تر سخت وعید لاندې راغلي دي لکه څنګه چې الله جل جلاله د النور سورة په نولسم مبارک آیت کې فرمايي: {**إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ**}. [1]

ژباړه: په یقینې توګه کوم کسان چې د مؤمنانو په ډله کې فحشا (بد لمني) خپرول خوښ ګڼي؛ هغوی په دنیا او آخرت کې د دردناک عذاب وړ دي، او الله پاک پوهیږي او تاسو نه پوهیږئ.

د اسلام په سپېڅلي دین کې د زنا او لواط ترسره کول او د هر هغه عمل

---

۱: (سورة النور: ۱۹)

کړنه او وینا چې انسان زنا او لواط ته اړ باسي لکه په شهوت کتل، په بد نیت خبرې کول، لاس وهل، د نر، ښځې، هلک او انجلۍ ګډول، ساتل او داسې نورې ورته کړنې چې په شخص کې بالفعل یا بالقوه شهوت او خوند پاروونکي وي او په هغه کې د زنا، بچه بازي او د لواط د فاحش او کرغیړن عمل لامل ګرځي ناروا او حرام دي.

د زنا بدوالۍ او حرمت هرچاته معلوم او روښانه دی اما په ځینو ټولنو کې دې ته ورته پدیده دود شوې او څوک وربانديې باک هم نه کوي چې هغه بچه بازي ده. بچه بازي د انساني، اخلاقي او جنسې فطرت خلاف او ناوړه عمل دی. ټولنه او په ځانګړي ډول ماشومانو او نوي ځوانانو ته اوس مهال او په راتلونکې کې د ډیرو ناخوالو لامل ګرځي. همدارنګه په دې بد عمل باندې یو د مخکنیو امتونو څخه اخته وو چې الله پاک په ځورونکي توګه په عذاب کړي دي لکه څرنګه چې الله جل جلاله په دې اړه فرمايي: **{وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ العَالَمِينَ * إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ النِّسَاءِ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ}.** (2)

ژباړه: (او کله چې لوط علیه السلام خپل قوم ته وویل: آیا تاسو داسې یو کار کوئ چې ستاسو څخه مخکنیو هیڅا هم نه دی کړی؟ تاسو خپله شهواني کړنه د نارینه ؤ سره تر سره کوئ نه له ښځو سره، تاسو اسراف کوونکي قوم یاست).

همداشان د شعراء په سورت کې د بچه بازۍ ناوړه پدیده تر حد تیرۍ او په

۲ : (د اعراف سورة، ۸۰ او ۸۱ آیتونه)

سرغړونه تعبیر شوی دی لکه چې الله جل جلاله فرمایي: **{أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعَالَمِينَ * وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ}**. [٣]

ژباړه: ( آیا د نړیوالو تر منځ تاسو (د خپلې جنسي غریزې د پوره کولو لپاره) فقط د نارینه خوا ته ځئ؟ او ستاسو ښځې چې الله تعالی ستاسو لپاره پیدا کړې دي پرېږدئ؟ بیشکه چې تاسو تیری کوونکي قوم یاست).

همدارنگه د انبیاء سورت په (۷۴) آیت کې د بچه بازۍ ناوړې پدیدې ته خبیث ترین عمل ویل شوی دی. الله جل جلاله فرمایي: { وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْقَرْيَةِ الَتِي كَانَت تَّعْمَلُ الخَبَائِثَ}.

ژباړه: (او موږ هغه(لوط علیه السلام)وژغوره د هغه کلي څخه چې پلیت عملونه یې ترسره کول).

همدارنگه په بیلا بیلو احادیثو کې هم د دې ناوړه عمل غندنه او په څرگنده توگه د دې مرتکبینو ته د سزا ورکولو بیان شوی دی، لکه څرنگه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې اړه فرمایی: **{مَنْ وَجَدْتمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ بِهِ}**. [٤]

ژباړه:هرڅوک چې تاسو د لواطت کولو پر مهال ومومئ، نو فاعل ( عمل کوونکی) او مفعول (چې عمل ورباندې ترسره شوی دی) دواړه ووژنئ.

همدارنگه فرمایي: **{عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ ؛**

---

٣ : (سورة الشعراء : ١٦٥- ١٦٦)
٤ : (د ابن ماجه سنن ٢/ ٨٥٦)

**فِي الَّذِي يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ قَالَ : ارْجُمُوا الأَعْلَى وَالأَسْفَلَ}**.(٥

ژباړه: ابو هريره رضی الله عنه له رسول الله صلى الله عليه و سلم څخه روايت كوي چې د لوط عليه السلام د قوم د عمل ترسره كوونكي په اړه يې وفرمايل: سنگسار يي كړئ (په كاڼو يي وولئ) هغه څوك چې په لواطت كې لاندې او باندې (فاعل او مفعول) وي.

په بل حديث كې رسول الله صلى الله عليه وسلم د بچه بازۍ د ناوړه پيښې د غندلو په اړه فرمايي: **{إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي عَمَلُ قَوْمِ لُوطٍ}**.(٦

ژباړه: (يوازينی شی چې زه يې د خپل امت په اړه ډيره ويره لرم د لوط عليه السلام د قوم عمل (بچه بازي) ده).

دې ته ورته په ډيرو احاديثو كې د بچه بازۍ حرمت ثابت او حتی فاعل او مفعول ته د عذاب له مخې مباح الدم ويل شوي دي. له همدې وجې فقهاؤ هر هغه عمل چې بچه بازۍ ته هڅونكی وي حرام بللي لكه د شهواني خوند په منظور ښايسته هلك ته كتل. بحرالرائق د شروط الصلاة په باب كې دا چې د ښځې څنگل او مخ عورت دي كنه؟ داسې وايي: **{وَلِذَا حَرُمَ النَّظَرُ إلَى وَجْهِهَا وَوَجْهِ الْأَمْرَدِ}** .(٧

ژباړه: له همدې كبله د خوند اخيستلو په پار د ښځې او پې مخي هلك مخ ته كتل حرام دي.

---

٥ : (د ابن ماجه سنن ٢/٨٥٧)
٦ : ( سنن ترمذی: ٤ / ٥٨)
٧ : (بحرالرائق: ١١ ٢٨٤)

همدارنگه په دُر مختار کې راځي: **{يَحْرُمُ النَّظَرُ إلَى وَجْهِ الْأَمْرَدِ إذَا شَكَّ فِي الشَّهْوَةِ، أَمَّا بِدُونِهَا فَيُبَاحُ وَلَوْ جَمِيلًا}.**(۸)

ژباړه: که چېرې پی مخي هلک ته په کتلو سره د خوند په اخيستلو کې متردد وي نو بيا ورته کتل حرام دي اما که د خوند اخيستلو شک شتون ونه لري نو بيا که ښايسته هم وي پروا نه لري.

کويتي الموسوعة الفقهية کې داسې راغلي دي: **{اتَّفَقَ الْفُقَهَاءُ عَلَى تَحْرِيم النَّظَرِ إلَى الأُمْرَدِ عَنْ شَهْوَةٍ أَوْ بِقَصْدِ التَّلَذُّذِ وَالتَّمَتُّعِ بِمَحَاسِنه ، وَلاَ فَرْقَ بَيْنَ الأُمْرَدِ الصَّبِيح وَغَيْرِهِ ، بَل نَصَّ الْحَنَفِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ عَلَى أَنَّ النَّظَرَ إِلَى الأُمْرَدِ بِشَهْوَةٍ أَشَدُّ إِثْمًا مِنَ النَّظَرِ إِلَى الْمَرْأَةِ بِشَهْوَةٍ، لأَنَّهُ لاَ يَحِل بِحَالٍ}.**(۹)

ژباړه: علماء په دې اتفاق لري چې د خوند اخيستلو په منظور ښوی مخي هلک (ګلالی وي او که بد رنګ) ته کتل او د هغه د ښکلا څخه خوند اخيستل يو شان حرام دي بلکه احناف او شافعيان خو دا وايي چې ښوی مخو هلکانو ته د شهوت او خوند اخيستلو په پار کتل، ښځو ته د کتلو څخه ډير بد او ګناه يې هم لويه ده. ځکه چې د شهوت په خاطر هلکانو ته کتل په هيڅ حالت کې جايز نه دي په خلاف د ښځو؛ ځکه د واده کولو څخه وروسته د هغوی څخه ګټه اخيستل روا کيږي.

بناءً د آيتونو، احاديثو او د ذکر شويو صريح فقهي عباراتو په پام کې نيولو سره د ښايسته او پی مخي هلک څخه د خوند اخيستلو په موخه هر ډول ګټه

۸ : (در المختار: ۱۱\۴۰۷)
۹ : ( الموسوعه: ۴۰\۳۰٤)

اخیستنه لکه کتل، خبرې کول، لمس کول، همدارنگه گډول او ساتل چې د دغو ټولو پای لواط ته هڅول دي د اسلامي شریعت له نظره حرام او ناروا دي، اما د دې انساني فطرت خلاف او ناوړې پدیدې د عاملینو د مجازاتو په هکله د صحابه کرامو د وخت راهیسې مختلف نظرونه شتون لري چې د نظر دغه توپیر د دې لامل شو چې فقهاء کرام د بچه بازۍ عاملینو ته د سزا ورکولو په څرنگوالي باندې اختلاف ولري نو صاحبان لکه امام محمد او امام ابو یوسف رحمهماالله په نزد د دې ناوړه پیښې سزا د زنا د سزا په څیر ده؛ که مجرم متأهل (واده شوی) شخص وي، هغه باید سنگسار شي، او که چیرې هغه مجرد (نا واده کړی) وي نو هغه باید سل درې ووهل شي. د حنفي فقهې په مشهور کتاب کې راغلي دي: **{وَقَالَا هو كَالزِّنَا فَيُحَدُّ رَجْمًا إنْ كان مُحْصَنًا أوجَلْدًا إنْ كان غير مُحْصَنٍ}**.([10]

ژباړه: او صاحبین وایي چې لواطت د زنا په څیر دی که مجرم متأهل (واده شوی) شخص وي، هغه باید سنگسار شي، او که چیرې هغه مجرد (ناواده کړی) وي، نو هغه باید سل درې ووهل شي.

همدارنگه د سني فقهاوو درې امامانو هم د صاحبینو د قول له مخې فتوا صادره کړې چې د عاملینو د مجرمینو د مجازاتو په اړه یې کړې او په دې برخه کې دوی د زنا د حد تطبیق وړ بولي، لکه څرنگه چې پدې قضیه کې په الموسوعة الفقیه کې ویل شوي دي: **{لِلْمَالِكِيَّةِ وَالْحَنَابِلَةِ وَالشَّافِعِيَّةِ عَلَى**

۱۰ : ( البحرالرائق ټوک ۵/ ۱۷)

**الْمَذْهَبِ وَالصَّاحِبَيْنِ مِنَ الْحَنَفِيَّةِ، وَهُوَ أَنَّ فِيهِ حَدَّ الزِّنَا}.**(١١

ژباړه: د امام مالک، امام احمد او امام شافعي رحمهم الله، او د حنفي مذهب صاحبانو دا ویلي دي چې د بچه بازۍ په عمل کې دې د زنا حد تطبیق شي.

اما امام ابوحنیفه رحمه الله د بچه بازۍ عمل ترسره کوونکي د مجازاتو په اړه د اصحاب کرامو ترمنځ د اختلاف له امله داسې باور لري چې د بچه بازۍ د عمل مرتکب لپاره هیڅ شرعي حد شتون نلري، مګر هغه د تعزیر مستحق دی ولې که په دې هکله معین مجازات شتون درلودلای بیا صحابه کرامو د مجازاتو د څرنګوالي په اړه اختلاف نظر نه درلود لکه پدې قضیه کې چې ویل شوي: {**وَلأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ لَيْسَ بِزِنًا وَلَا مَعْنَاهُ فَلَا يَثْبُتُ فِيهِ حَدٌّ، وَذَلِكَ لأَنَّ الصَّحَابَةَ اخْتَلَفُوا فِي مُوجِبِهِ: فَمِنْهُمْ مَنْ أَوْجَبَ فِيهِ التَّحْرِيقَ بِالنَّارِ، وَمِنْهُمْ مَنْ قَالَ يُهْدَمُ عَلَيْهِ الْجِدَارُ، وَمِنْهُمْ مَنْ يُلْقِيهِ مِنْ مَكَانٍ مُرْتَفِعٍ مَعَ إِتْبَاعِ الْأَحْجَارِ، فَلَوْ كَانَ زِنًا فِي اللِّسَانِ أَوْ فِي مَعْنَاهُ لَمْ يَخْتَلِفُوا بَلْ كَانُوا يَتَّفِقُونَ عَلَى إِيجَابِ حَدِّ الزِّنَا عَلَيْهِ}.** (١٢

ژباړه: امام ابوحنیفه رحمه الله فرمایي: د بچه بازۍ عمل نه حقیقتاً د زنا په حکم کې ده او نه هم معناً نو د زنا حد په کې نه ثابتیږي ځکه صحابه کرامو د مجازاتو په څرنګوالي کې اختلاف درلود، ځینې صحابه د دې عمل مرتکب ته په اور سوځولو سزا ورکوي، او ځینې نور وايي چې دیوال دې باید ورباندې وغورځول شي، ځینې نور بیا وايي چې دی باید له لوړ ځای څخه وغورځول

١١ : ( الموسوعه الفقهیه.٤٤/ ٣٠)
١٢ : (فتح القدير- ټوک- ١١/ ٤٤٧)

شي او کاڼې دې پسې ور خطا شي. نو که بچه بازي حقيقتاً يا حکماً د زنا په حکم کې وی بيا صحابه وو د هغه د مجازاتو په هکله اختلاف نه کاوه يومخ به يي د زنا د حد د تطبيق په وجوب اتفاق کاوه.

له دې روښانه فقهي جملې څخه څرګنده شوه چې صحابه کرام د بچه بازۍ د جرم د مرتکب لپاره د مجازاتو له طريقې سره موافق نه دي، او همدا لامل دی چې د دې عمل د مرتکب لپاره شرعي حد نشته نو بايد تعزير شي. لکه چې په دې مسئله کې د حنفي فقهې سره داسې نظر دی: **{وَالرَّأْيُ إلى الْإِمَامِ فِيمَا إذَا اعْتَادَ ذَلِكَ إنْ شَاءَ قَتَلَهُ وَإِنْ شَاءَ ضَرَبَهُ وَحَبَسَهُ}**.(١٣)

ژباړه: د بچه بازۍ د ترسره کوونکي د تعزير د څرنګوالي واک امام يا حاکم لره دی که چيرې د بچه بازۍ مرتکب په دغه عمل روږدی وو نو کولای شي ويې وژني يا يي په دُره ووهي او يا يي هم بندي کړي.

اکثريت د دې عمل سزا د زنا سزا ګڼي، مګر امام ابي حنيفه رحمه الله د بچه باز لپاره سزا تعزير بولي او د وخت حاکم د قتل څخه نيولې تر قيده او په دُره وهلو پورې د مجرم وضعيت په پام کې نيولو سره کولای شي سزا ورکړي.

شيعه فقهاء هم د دې ناوړه عمل لپاره سزا تر زنا خورا سخته او درنده بولي لکه څرنګه چې د امامي فقهې په مشهور کتاب کې راغلي دي: **{والامام مخير فی حد اللواط بين القتل بالسيف، وبين ان يرمی عليه حائطا، او يرميه من موضع عالٍ او يرميه با الحجارة}**. (١٤)

---

١٣ : (حاشيه ابن عابدين جلد ٢٧/٤)
١٤ : ( المقنعه للشيخ المفيد، باب الحد فی اللواط پاڼه ٧٨٥)

ژباړه: امام د لواطت د حد په تطبیق کې واک لري چې مرتکب په توره ووژني ، یا پرې دیوال راوغورځوي یا یې له لوړ ځای څخه ښکته واچوي او کا ښي پسي وغورځوي.

همدارنګه دافغانستان دجزاپه قانون کې داناوړه پدیده دجرم په توګه پیژندل شوې ده. د بچه بازۍ څخه نیولې د ماشومانو اخلاقي انحرافاتو ته اړولو پورې ځانګړې سزاګانې لري. د ٦٤٦ مادې څخه تر ٦٦٧ مادې ددې جرم او اختصاصي پیښو او بیلابیل ډولونو ته په پام سره بیلابیل مجازات په پام کې نیول شوي دي.

په پای کې په لنډه توګه باید وویل شي چې بچه بازي په مختلفو ډولونو سره چې په هغه کي له ماشومانو څخه د ناوړه او جنسي ګټه اخیستل کیږي د اسلام مبین دین له نظره حرام او ناروا دی، مرتکب یي یو ناوړه او بده کړنه ترسره کړې ده، د فقهاؤ د مختلفو لیدلورو په لرلو سره په دنیا ورته ډیر دروند او عبرت ورکوونکي سزا په نظر کي نیول شوی ده او له دغه کرغیړن عمل څخه د توبې نه کولو په صورت کې کیدای شي د آخرت عذاب تر دې سخت تمام شي.

والله اعلم بالصواب

مولوی عبدالستار ( خادم)

د مجمع علمي ریاست د افتاء آمریت

د تخصصي او مسلکي مدیریت مدیر

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت ارشاد حج و اوقاف
معینیت مسلکی
ریاست مجمع علمی
مدیریت اجرائیه

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Ministry of Religious Affairs and HADJ**
**General President of Academic Team**

شماره ........ ۱۰۹
تاریخ ۴/ ۱۱/ 1399 ۶۲

عاجل ☐ عادی ☐ ابلاغیه ☐ اطمینانیه ☐ سائر ☐

**به مؤسسه محترم صحی وانکشافی جوانان!**

**السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!**

دررابطه به مکتوب شماره 1933مورخ 12/15/ 2020 و شما احتراماً نگاشته می شود:
معلومات دینی که دررابطه به تهیه یک عنوان فتاوی به زبان دری ازطریق آن مؤسسه محترم درمورد (مذمت وحرمت فعل بچه بازی) توسط تعداد ازعلماء دینی ازچهارولایت کشور جمع آوری گردیده با این ریاست قبلاً درمیان گذاشته شده بود وذریعه مکتوب نمبرفوق عنوانی مقام محترم وزارت، خواهان اصدار فتوی شرعی با استفاده ازآن مواد ازآدرس این ریاست گردیده بودید،
اینک فتوی شرعی پیرامون موضوع متذکره با استفاده ازمعلومات ارائه شده وبا استناد ازمصادر شرعی ومتون فقهی درقید (6) ورق AF تحت شماره (5) ترتیب واصدارگردیده است ضمیمه این مکتوب جهت معلومات واجراات بعدی به آن مؤسسه محترم ارسال است.
قابل یاد آوری است که تعداد صفحات فتوی متذکره میتواند بعد ازدیزاین به منظورطبع ونشر بارعایت کامل اصل متن آن افزایش یابد.

**بااحترام**

**مفتی سید حجت الله "نجیح"**
**رئیس مجمع علمی**

**کاپی به آمریت افتاء.**

**Add: Kabul – shar- e – naw Char rahi Faiz Muhammad Khan.**
**Mobile: 0778830806**
**Email: Sientific.assembly@mohia.gov.af**

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت ارشاد، حج و اوقاف
معینیـــت مسلـــکی
ریاست مجمع علمی
آمــریت إفتـــاء

# فتوی پیرامون حرمت بچه بازی و مجازات عاملین آن

**بسم الله الرحمن الرحیم**

مسوده فتوی و استفتاء در مورد حرمت بچه بازی و مجازات عاملین آن که از طرف موسسه صحی و انکشافی جوانان مواصلت ورزیده است.

مؤسسه صحی وانکشافی جوانان در نتیجه تفاهمنامهٔبا وزارت محترم ارشاد، حج و اوقاف جمهوری ا.ا پروژهٔ مبارزه علیه پدیدهٔبچه بازی و محو معافیت عاملین آن از مجازات را در چهارولایت افغانستان(کابل، کندهار،هرات وبلخ ) تطبیق مینماید. یکی از فعالیت های این پروژه دریافت فتوی شرعی از علماء کرام این ولایات پیرامون این پدیدهٔ زشت بچه بازی و دواعی آن و حمایت از قربانیان آن میباشد، بناءً مؤسسهٔ متذکره از ١٦ تن علماء کرام که توسط وزارت محترم درین ولایات معرفی گردیده بودند خواهان جمع آوری مواد برای این فتوی شدند، مواد مذکور بعد از دریافت دیدگاه های اصلاحی و تعدیلی قبلی ریاست محترم مجمع علمی آن وزارت محترم به منظور دریافت فتوی شرعی بگونه رسمی از آدرس مجمع علمی، به آن وزارت محترم تقدیم است:

**فتوی:**

**الحمد لله الذي بيَّن الحلال و الحرام و نهی عن الفحشاء و الآثام، والصلاة والسلام علی سیدنا محمد خیر الأنام، و علی آله و اصحابه الکرام، و بعد:**

در رابطه به متن فوق الذکر باید گفت که رهبری محترم موسسه صحی و انکشافی جوانان بادرک مسئولیت دینی وملی خویش متوجه این پدیده زشت

گردیده و به منظور مبارزه علیه آن به جمع آوری معلومات دینی با استفاده از دیدگاه ها و نظریات علماء ولایات مختلف (کابل، کندهار،هرات وبلخ ) بخاطر تهیه مواد فتوی پیرامون حرمت پدیده زشت بچه بازی و مجازات عاملین آن پرداخته اند که با در نظر داشت و استفاده از آن، این ریاست ( ریاست مجمع علمی) به تحریر و اصدار فتوی پیرامون موضوع ذیلاً می پردازد:

دین مقدس اسلام به عنوان آخرین دین آسمانی از بدو نزول مبارزه علیه انحرافات و پدیده های زشت اجتماعی را آغاز نمود تا انسان ها از لحاظ عقیدوی به مرحله رضایت بخش و پسندیده برسند و هم از لحاظ اخلاقی و رفتار اجتماعی باید مدارج کمال را بپیمایند، بناء با در نظرداشت این ملحوظ بزرگ و تطهیر جامعه از لوث هر نوع رزائل اخلاقی انجام هر عمل فحشاء وخلاف عفت و فطرت سلیم انسانی و یا ترویج و اشاعه آن در جامعه در دین مبین اسلام حرام، ناروا ومذموم قرار داده شده ومرتکبین آن مورد وعید شدید در قرآن کریم و سنت نبوی قرار گرفته اند چنانچه الله متعال در آیه مبارکه نوزدهم سوره النور می فرماید:

**{ إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ}.** [1]

ترجمه: یقینا کسانیکه دوست دارند تا فحشاء و بی حیایی در میان اهل ایمان گسترش یابد برای آنها عذاب دردناکی در دنیا و آخرت است و الله متعال میداند وشما نمی دانید.

---

١ : (سورة النور: ١٩)

در دین مبین اسلام ارتکاب فعل شنیع زنا، لواط و هر عمل، رفتار و گفتار که منجر به زنا و لواط میگردد مانند دیدن باشهوت، صحبت کردن با تلذذ همراه باداشتن نیت سوء، لمس نمودن و رقصانیدن زن، مرد، پسر و دختر و دیگر کارهای که شبیه موارد فوق بوده و باعث تلذذ بالفعل و یا بالقوه در شخص گردیده و احتمال زمینه سازی در آن به عمل فحش و قبیح زنا و یا لواط متصور باشد ناجائز و حرام است که شناعت این عمل و حرمت آن به همه گان معلوم و روشن است، اما پدیدهٔ که دربرخی جوامع امروزی رائج گردیده وسهل پنداشته میشود عمل شنیع بچه بازی است که پدیده زشت، خلاف عفت و فطرت سلیم انسانی و اخلاقی بوده و پیامدهای ناگوار درحال و آینده نسبت به جامعه بخصوص برای اطفال و نوجوانان داشته و فعل شنیع است که یکی از امت های گذشته بر این عمل مبتلا بوده و الله متعال ایشان را به عذاب دردناک گرفتار نمود چنانچه میفرماید: {**وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَد مِّنَ العَالَمِينَ * إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ النِّسَاءِ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ**}. ([2]

ترجمه: (و آنگاه که لوط علیه السلام به قوم خود گفت: آیا عمل زشتی را انجام میدهید که هیچکس ازجهانیان پیش ازشما انجام نداده اند! آیا شما از روی شهوت به سراغ مردان می روید نه زنان؟ شما گروه اسراف کار ومنحرفی هستید. ( معلوم گردید که بچه بازی فاحش ترین عملی بوده که در امت های

---

۲ : (سوره اعراف،۸۰ آیات او ۸۱)

گذشته هیچ کس به چنین عملی مبادرت نه نموده اند

همچنان درسورۀ مــبارکه شعراء پدیده زشت بچه بازی به تجاوز، حدگذری و عدوان تعبیر شده است چنانچه الله متعال میفرماید: { **أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعَالَمِينَ * وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ**}. ([3]

ترجمه: (آیادرمیان جهانیان شمابه سراغ جنس ذکورمیروید! وهمسرانی که پروردگارشما برای شما آفریده است رها می کنید! حقا که شما قوم تجاوزگر هستید).

درسورۀ انبیاء آیت (۷۴) پدیده زشت بچه بازی خبیث ترین عمل خوانده شده است. الله متعال میفرماید: {**وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَت تَّعْمَلُ الْخَبَائِثَ**}.

ترجمه : و رهائی بخشیدیم او ( لوط علیه السلام) را، ازشهری که عمل زشت و کثیف را در آن انجام میدادند).

از آیات متعدد قرآنی که ذکر شد قباحت و مذمت پدیدۀ زشت بچه بازی در قرآنکریم معلوم گردید چون در تعبیرات قرآنی از آن به عمل فحش، خبیث و عدوان تعبیر شده است که نهایت قباحت این عمل مخالف فطرت انسانی را نشان میدهد و همچنان در احادیث معتدد نیز با صراحت بیشتر مذمت این عمل شنیع و مجازات عاملین آن بیان گردیده است چنانچه رسول الله صلی الله علیه وسلم میفرماید: {**مَنْ وَجَدْتمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ بِهِ**}. ([4]

---

۳ : (سورة الشعراء : ١٦٥- ١٦٦)

٤ : (سنن ابن ماجه ٢/ ٨٥٦)

ترجمه: رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید کسی را که در جریان انجام دادن عمل لواطت دریافتید پس فاعل {عمل کننده} و مفعول به {کسیکه عمل بالای آن انجام میشود} را قتل کنید. همچنان میفرمایند: **{عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ؛ فِي الَّذِي يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ قَالَ : ارْجُمُوا الأَعْلَى وَالأَسْفَلَ}**.(٥)

ترجمه: ابوهریره رضی الله عنه از رسول الله صلی الله علیه وسلم در مورد کسیکه عمل لواطت را انجام میدهد چنان فرمودند: رجم {سنگسار} کنید کسی را که در بالا و پائین قرار دارد {فاعل و مفعول}.

در حدیث دیگر رسول الله صلی الله علیه وسلم در مورد مذمت و نکوهش پدیدهٔ زشت بچه بازی چنین میفرماید: **{إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي عَمَلُ قَوْمِ لُوطٍ}**.(٦)

ترجمه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمودند: یگانه چیزیکه بیشترین ترس را درمورد آن نسبت به امت خود دارم او عمل قوم لوط علیه السلام {بچه بازی } است.

در این سه حدیث ذکر شده به طور نمونه از ده ها حدیث دیگر که در همه آنها فعل لواطت و همه دواعی و اسباب که سبب قرب و نزدیک شدن انسان به این عمل فحش میگردد، قبیح ترین، زشت ترین و عمل موجب لعنت و نفرت قرار داده شده است که فاعل و مفعول آن زجرا مباح الدم خوانده شده است.

---

٥ : (سنن ابن ماجه ٢/ ٨٥٧)
٦ : (سنن ترمذی: ٤ /أ ٥٨)

به همین دلیل فقهای کرام هرآن عملی که منجر به بچه بازی میگردد حرام دانسته اند مثلا نگاه کردن به سوی بچهٔ بی ریش و خوش روی. در بحرالرائق درباب شروط الصلاة در مورد اینکه آیا آرنج و روی زن عورت هست ویا خیر؟ چنین آمده است: { **وَلِذَا حَرُمَ النَّظَرُ إلىَ وَجْهِهَا وَوَجْهِ الْأَمْرَد** }. (7)

ترجمه: به همین خاطر دیدن به روی زن و دیدن به روی أمرَد (بچهٔ خوش روی) به منظور تلذذ حرام است).

همچنان در دُرمختار آمده است: {**يَحْرُمُ النَّظَرُ إلىَ وَجْهِ الْأَمْرَدِ إذَا شَكَّ فِي الشَّهْوَةِ، أَمَّا بِدُونِهَا فَيُبَاحُ وَلَوْجَمِيلًا** }. (8)

ترجمه: درصورتیکه در داشتن شهوت متردد باشد، دیدن به روی بچهٔ خوش روی حرام است اما اگرشهوت متصور نبود با وجود زیبا بودن، دیدن به سویش مباح است.

در الموسوعة الفقهية کویتی چنین آمده است: {**اتَّفَقَ الْفُقَهَاءُ عَلَى تَحْرِيمِ النَّظَرِ إِلىَ الأُمْرَدِ عَنْ شَهْوَةٍ أَوْ بِقَصْدِ التَّلَذُّذِ وَالتَّمَتُّعِ بِمَحَاسِنِه، وَلاَ فَرْقَ بَيْنَ الأُمْرَدِ الصَّبِيحِ وَغَيْرِهِ، بَل نَصَّ الْحَنَفِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ عَلَى أَنَّ النَّظَرَ إِلىَ الأُمْرَدِ بِشَهْوَةٍ أَشَدُّ إِثْمًا مِنَ النَّظَرِ إِلىَ الْمَرْأَةِ بِشَهْوَةٍ، لأَنَّهُ لاَ يَحِل بِحَالٍ**}. (9)

ترجمه: علماء برحرمت دیدن به بچهٔ خوش روی از روی شهوت و یا به قصد لذت بردن ویا نفع بردن از زیبایی هایش اتفاق دارند، و درمیان بچهٔ خوش

---

7 : ( بحرالرائق: ١١ ٢٨٤)
8 : ( در المختار: ٤٠٧١١)
9 : ( الموسوعه: ٣٠٤١٤٠)

روی و غیر آن فرق نکرده اند، بلکه احناف و شوافع تصریح میکنند که گناه دیدن شهوانی به بچه شدید تر است نسبت به گناه دیدن شهوانی به زن زیرا که لذت و استمتاع ازبچه های خوش روی در هیچ حالت حلال نبوده به خلاف زنان که درصورت عقد ازدواج حلال می گردند.

بناءًبا درنظرداشت آیات، احادیث و عبارات صریح فقهی ذکر شده هرنوع استفاده از بچه بی ریش به قصد لذت گرفتن چه نگاه کردن به قصد لذت بردن، لمس نمودن و یا رقصانیدن باشد همهٔ این اعمال که در نتیجه منجر به فعل لواط میگردد از دید اسلام حرام و ناروا میباشد، ولی در مورد چگونگی مجازات عاملین و کسانیکه به این پدیده زشت وخلاف فطرت انسانی مبادرت میورزند از زمان صحابه کرام دیدگاه و نظریات متفاوت وجود دارد که این تفاوت دیدگاه باعث شد تا فقهاء کرام نیز در مورد نحوه مجازات مرتکبین عمل لواط اختلاف نظر پیدا کنند چنانچه صاحبین یعنی امام محمد و امام ابو یوسف رحمهماالله مجازات این پدیده زشت را مثل مجازات حد عمل زنا میدانند در صورتیکه مرتکب محصن {متاهل} باشد باید رجم گردد و اگر غیرمحصن باشد باید صد دُره زده شود. در کتاب مشهور فقه حنفی چنین آمده است: **{وَقَالَا هو كَالزِّنَا فَيُحَدُّ رَجْمًا إنْ كان مُحْصَنًا أوجَلْدًا إنْ كان غير مُحْصَنٍ}**. (۱۰

ترجمه: صاحبین میگویند که لواطت مثل زنا است پس مرتکب اگر محصن باشد حدا باید سنگسار گردد و اگر غیرمحصن باشد باید به دُره زده شود.

---

۱۰ : (البحرالرائق جلد .۵/ ۱۷)

همچنان ائمه ثلاثه از فقهای اهل سنت مطابق به قول صاحبین در مورد مجازات مرتکبین عمل لواط فتوی داده اند و در آن حد زنا را قابل تطبیق میدانند چنانچه در این مورد در الموسوعه الفقهیه آمده است: {**لِلْمَالكِيَّةِ وَالْحَنَابِلَةِ وَالشَّافِعِيَّةِ عَلَى الْمَذْهَبِ وَالصَّاحِبَيْنِ مِنَ الْحَنَفِيَّةِ، وَهُوَ أَنَّ فِيهِ حَدَّ الزِّنَا**}. (١١

ترجمه: از امام مالک، امام احمد و امام شافعی رحمهم الله وصاحبین از مذهب حنفی بر این قول کرده اند که در عمل لواط حد زنا تطبیق میگردد.

ولی امام ابوحنیفه رحمه الله نسبت به اختلاف که میان اصحاب کرام درمورد مجازات مرتکب عمل لواط وجود داشت به این باور اند که برای مرتکب فعل لواط حد تعیین شدۀ شرعی وجود ندارد بلکه مستحق تعزیر میگردد چون اگر حد معین وجود میداشت باز صحابۀ کرام در مورد نحوۀ مجازات آن باهم اختلاف نمی کردند چنانچه در این مورد آمده است: {**وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ لَيْسَ بِزِنًا وَلَا مَعْنَاهُ فَلَا يَثْبُتُ فِيهِ حَدٌّ، وَذَلِكَ لِأَنَّ الصَّحَابَةَ اخْتَلَفُوا فِي مُوجِبِهِ: فَمِنْهُمْ مَنْ أَوْجَبَ فِيهِ التَّحْرِيقَ بِالنَّارِ، وَمِنْهُمْ مَنْ قَالَ يُهْدَمُ عَلَيْهِ الْجِدَارُ، وَمِنْهُمْ مَنْ يُلْقِيهِ مِنْ مَكَانٍ مُرْتَفِعٍ مَعَ إتْبَاعِ الْأَحْجَارِ، فَلَوْ كَانَ زِنًا فِي اللِّسَانِ أَوْ فِي مَعْنَاهُ لَمْ يَخْتَلِفُوا بَلْ كَانُوا يَتَّفِقُونَ عَلَى إيجَابِ حَدِّ الزِّنَا عَلَيْهِ**}.(١٢

ترجمه: امام ابوحنیفه رحمه الله میگوید که فعل لواط نه حقیقتاً درحکم

١١ : (الموسوعه الفقهیه.٤٤/ ٣٠)
١٢ : ( فتح القدیر. جلد. ١١/ ٤٤٧)

زنا است و نه هم معناً پس درآن حد زنا ثابت نمی گردد، بخاطر اینکه صحابه کرام در مورد نحوه مجازات فاعل آن اختلاف کردند که بعض از اصحاب کرام مجازات مرتکب فعل لواط را در آتش سوختاندن میگویند و بعضی دیگر میگویند باید بالای آن دیوار انداخته شود، و بعض دیگر میگویند که از جای بلند به زیر انداخته شود وسنگ باران گردد، پس اگر لواطت حقیقتاً و یاحکماً در حکم زنا می بود باز صحابه کرام درمورد مجازات آن اختلاف نمی کردند بلکه بر واجب بودن تطبیق حد زنا اتفاق میکردند.

از این عبارت صریح فقهی معلوم گردید که صحابه کرام در مورد نحوه مجازات مرتکب فعل لواط اتفاق نظر ندارد و این خود دلیل براین است که حد تعیین شدهٔ شرعی برای فاعل این عمل وجود ندارد لذا باید تعزیر گردد و در قسمت نحوهٔ تعزیر مرتکب عمل لواط دیدگاه فقه حنفی چنین است: **{وَالرَّأْيُ إِلَى الْإِمَامِ فِيمَا إِذَا اعْتَادَ ذَلِكَ إِنْ شَاءَ قَتَلَهُ وَإِنْ شَاءَ ضَرَبَهُ وَحَبَسَهُ}**.([۱۳]

ترجمه: اختیار نحوه تعزیر مرتکب فعل لواط را امام یا حاکم دارد اگر مرتکب معتاد به این عمل شده بود میتواند او را قتل نماید و اگر خواست به دُره بزند ویا هم او را حبس نماید.

خلاصه دیدگاه فقهای اهل سنت درخصوص مجازات مرتکب فعل لواط این است که مجازات فعل بچه بازی را مثل مجازات حد زنا میدانند ولی امام ابی حنیفه رحمه الله مجازات لواط را تعزیری میداند و در تعزیر آنچه را حاکم

---

۱۳ : (حاشیه ابن عابدین جلد ٤/۲۷)

وقت با درنظرداشت وضعیت مجرم لازم ببیند از قتل به نحوه های که ذکر شد تا حبس و دره زدن میتواند باشد.

و فقهای اهل تشیع نیز مجازات این عمل خبیثه را شدیدتر و سنگین تر از عمل زنا میدانند چنانچه در این خصوص در کتاب مشهور فقه امامیه چنین آمده است: {**والامام مخیرفی حد اللواط بین القتل بالسیف، وبین ان یرمی علیه حائطا، او یرمیه من موضع عالٍ او یرمیه با الحجارة**}. (١٤)

ترجمه: امام در اجرای حد لواطت اختیار دارد بر اینکه مرتکب را با شمشیر به قتل برساند، یا اینکه او را سنگسار نماید و یا از موضع و محل بلند به پائین انداخته شود و با پرتاب سنگ تعقیب گردد.

همچنان درقانون جزاء افغانستان نیز این پدیده زشت به عنوان جرم شناخته شده است از فعل لواط گرفته تا کشاندن اطفال به انحرافات اخلاقی به عنوان جرم تسجیل شده و از ماده { ٦٤٦} تا ماده { ٦٦٧} با درنظرداشت حالات مشدده و مخففهٔ این جرم و نوعیت مختلف آن مجازات گوناگون درنظر گرفته شده است.

در آخر به طور خلاصه باید گفت که بچه بازی با تمام شیوه های آن که به نیت حصول تلذذ و سوء استفاده از اطفال صورت گیرد از دید شرع مبین اسلام حرام و ناروا بوده و برای مرتکب فعل لواط که یک عمل قبیح، فحش و

١٤ : (المقنعه للشیخ المفید، باب الحد فی اللواط صفحه ٧٨٥)

خبیث را انجام داده است با در نظر داشت تفاوت دیده های فقهاء مجازات سنگین و عبرت دهنده در دنیا در نظر گرفته شده است وعذاب آخرت در صورت توبه نکردن از این عمل شنیع میتواند برایش شدید تر از این باشد.

راقم الحروف محمدعارف مصلح

آمر افتاء ریاست مجمع علمی

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت حج و اوقاف
004 ۱۳۸۳
ریاست مجمع علمی
...istry of piligrimage and pious

Y.H.D.O
Youth Health & Development Organization

د ځوانانو روغتیایي او پرمختیایي مؤسسه

د چاپ حقوق د ځوانانو روغتیایي او پرمختیایي مؤسسې سره خوندي دي
حقوق چاپ با موسسهٔ صحی و انکشافی جوانان محفوظ میباشد